# شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤۲۳ ګڼه / شنبه ۲۷ رمضان‌الکریم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۸ حمل ۱٤۰۳ هـ.ش / ۰٦ اپریل ۲۰۲٤ میلادي


اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:۲۱

سحر: ٤:۰٥

## تېرکال تر ۱۰۰ زرو زیاتو بهرنیو او کورنیو ګرځندویانو له بامیانو لیدنه کړې

اطلاعاتو او کلتور وزارت وايي چې يوازې باميانو ته تر ۱۰۰ زرو زيات کسان په تېر ۱٤۰۲ کال کې ورغلي دي. ويل کيږي دغو ګرځندويانو د باميانو له تاريخي او طبيعي ځايونو ليدنه کړې ده. اطلاعاتو او کلتور وزارت د ياد ولايت د اطلاعاتو او کلتور د رئيس مولوي صفي الله رائد له قوله ليکلي چې ددغو سيلانيانو له ډلې ۱۵۰۰ تنه بهرنيان دي.

مولوي رائد وويل چې ګرځندويانو ته به لا ډېرې اسانتياوې چمتو کوي او بندامير کې به مجلل هوټلونه جوړ کړي. ددې ترڅنګ د دغه ولايت اطلاعاتو او فرهنګ رياست ويلي چې د بند امير د سړک جوړونې کارونه يې هم پيل کړي دي.

د ويلو ده چې د اسلامي امارت په بياواکمنېدو سره هيواد ته ګڼ بهرني سيلانيان رامات شوي چې ستر سبب يې سرتاسري امنيت دی.

**کډوالو چارو وزارت:**

# ترکیه کې ۳۰ افغانان مړه او ټپي تم شوي



د ترکيې د چاناک قلعه ولايت اړوند په يو سيند کې د کډوالو يوه کښتۍ ډوبه شوې چې ۲۲ افغان کډوال پکې مړه او ۷ نور لا هم نادرکه دي.

د افغانستان اسلامي امارت د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت په يوه اعلاميه کې پر دې پېښې خپله ژوره خواشيني ښودلې، شهيدانو ته يې جنت فردوس او کورنيو ته يې د زغم غوښتنه کړې ده. په دغه اعلاميه کې ددې پېښې د دقيق وخت په اړه څه نه دي ويل شوي خو په اعلاميه کې د ٤٦ تنو سپرو خبر ورکول شوی دی. دغه وزارت د ترکيې له چارواکو غوښتنه کړې چې د ټپي... ۳مخ

## روز جهانی آگاهی از ماین؛ در سه ماه گذشته انفجار ماین‌ها جان ۳۸ تن را گرفت



مقام‌های وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث طبیعی می‌گویند، در سه ماه گذشته ٦۱ حلقه ماین و مهمات منفجر ناشده در کشور، انفجار کرده است.

رییس تطهیر ماین در وزارت دولت در امو رسیدگی به حوادث طبیعی، در نتیجه انفجار طبیعی این مطلب را در نشستی که به مناسبت تجلیل از روز جهانی آگاهی از ماین در کابل برگزار شده بود، بیان کرده است.

به گفته این مقام وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث... ص۳

## امنيتي ځواکونو يو ماشوم له انسان تښتوونکو وژغوره



د کندهار ولايت د سپين بولدک ولسوالۍ امنيتي ځواکونو هغه ماشوم ژغورلی، چې تېره ورځ د انسان تښتونکو له لوري تښتول شوی و. د ياد ولايت د امنيې قومندانۍ وياند ملا اسدالله جمشېد حريت نيوز ته ويلي، امنيتي ځواکونو تېره ورځ ياد ماشوم ژغورلی، چې په... ۳مخ

## اعضای اتحادیه نمک‌فروشان مقروضیت‌های‌شان را می‌پردازند



وزارت معادن و پترولیم می‌گوید، اعضای اتحادیه نمک فروشان کشور متعهد شده‌اند که مقروضیت‌های‌شان را هرچه‌زودتر بپردازند.

این وزارت در خبرنامه‌ای این مطلب را بیان کرده است.

بربنیاد خبرنامه، اعضای اتحادیه نمک‌فروشان کشور در دیدار با شیخ شهاب‌الدین دلاور، سرپرست وزارت معادن و پترولیم، تعهدشان را برای پرداخت مقروضیت‌های‌شان ابراز کرده‌اند.

در این دیدار در مورد ساخت کارخانه معیاری نمک در کشور، تصفیه مقروضیت‌ها، ساخت سرک و دیوارهای استنادی نمک رسوبی اندخوی، گفت‌وگو شده است. ص۳

**سرمقاله**

## د بهرنيو بې پيلوټه الوتکو د مخنيوي لپاره څه کول په کار دي؟

افغانانو د قادر خدای جل جلا له په مرسته له خپلې خاورې دښمن شړلی او دا وخت بشپړې خپلواکۍ سره د خپلې خوښې اسلامي نظام او ملي حاکميت نه برخمن دی خو څرنګه چې اوسنۍ زمانه د ساينس او تخنيک زمانه ده او زموږ د چم ګاونډ په شمول ټول هېوادونه داسې وسايل لري چې له خورا ليرې سيمو زموږ کورونه هم په توغنديو ويشتلی او هم مو له خپلې بې پيلوټه او هر ډول الوتکو پرمټ بمبارو لی شي. همدا وجه ده چې د امريکايانو له وتلو وروسته هم پرلپسې زموږ پر فضا پردۍ الوتکې چورلي او د خپلې خوښې پر هدفونو ګوزارونه هم کوي. دا لړۍ همداسې روانه او موږ يې پر وړاندې هيڅ نه شو کولی. البته دا راته معلومه شوې چې يادې الوتکې د پاکستان له خوا زموږ فضا ته داخليږي ځکه خو موږ ته بې توپيره ده چې د پاکستان دي او که د هر بل هېواد. که د هر چا وي معنا د پاکستان وي، که د پاکستان له کومې کرايي اډې را لوځي او که له بل لوري د پاکستان له فضا عبوري را تيريږي، په هر صورت افغان ولس له دغې تېريو سره خورا شديد حساسيت لري او دا چاره په هيڅ شکل ورته د زغملو نه ده- ځکه خو اوس هر عادي افغان هم شپه ورځ په دې سوچ کې دی چې د ياد فضايي تيري پر وړاندې څه وکړي؟ څوک وايي که په هره بيه کيږي موږ بايد هغه وسايل تر لاسه کړو چې يادې الوتکې پرې ويشتلی او خپله فضا خوندي کولی شو. دا زموږ خپل قانوني حق او تر ټولو غوره لار ده خو بايد پام مو وي چې زموږ غوندې بې وزله ملت لپاره د خپلې فضا خوندي کول تقريباً ناشونې چاره ده. ځکه ډېر پر مختللي هېوادونه لا نه شي کولی له پرديو ګوزارونو ځان وساتي. بله لار بيا له پاکستان سره حساب کول دي او هغه هم پردوو شکلونو امکان لري: لومړی دا چې له ډيورنډه ورپورې پاکستاني عسکري اډوباندې يرغل وشي خو د دې جګړې پايلې هم چندان مثبتې نه ښکاري. بله لار داده چې د پاکستان عام ولس سره په اړيکه کې شو- ځکه ښکاره ده چې د پاکستان اکثريت عوام ښه مسلمان خلک دي، دا بېله خبره ده چې پوځ يې يو مخ غلام او کرايي دی. مطلب دا اوس چې د افغانستان په اړه څه کيږي، په يقيني توګه يې عام ولس پرې ناخوښه دی. يعنی دا چارې يوازې د پرنګي په فرمايش ترسره کيږي تردې چې زياتره سياستوال يې هم مخالف دي. بناء پاکستاني عوامو سره زموږ اړيکه او د همدوی له لارې پر ياد پوځ فشار اچول او موږ سره يې اسلامي اخوت ته رابلل... ۳مخ

## استخدام بیش از ۸۰ تن از فارغان انستیتوت هوانوردی ملکی در بخش‌های هوانوردی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی هشتاد تن از فارغان انستیتوت هوانوردی ملکی را در میدان های هوایی افغانستان استخدام کرد.

دفتر مطبوعاتی وزارت هوانوردی ملکی با نشر این خبر گفته است که محفل استخدام ۸٥ تن از فارغان سال ۱٤۰۲ انستیتوت هوانوردی ملکی در بخش‌های تخنیکی میادین کشور با حضور داشت مولوی فتح الله منصور معین عملیاتی ، حافظ صدیق‌الله عابد معین مالی و اداری شیخ عبدالباقی حقانی رئیس اداره ملی امتحانات، مولوی غلام حیدر شهامت رئیس اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی و... ص۳

## د فرهنګ او هنر معينيت د قرآن د نزول جشن ولمانځه




**شريعت:** روژه هغه مياشت ده، چې قران پکې نازل شوی دی او په اسلام کې دغه مياشت ځکه له نورو مياشتو غوره ګڼل کيږي، چې نسبت يې له قران سره شوی دی. د افغانستان اطلاعات او کلتور وزارت، د فرهنګ او هنر معينيت هم په همدې اړوند د کابل په تاريخي بڼ(د بابر بڼ) کې جشن نيولی و، چې د افغانستان د بېلابېلو ادارو چارواکو او عام ۳مخ

## سفر ده گردشگر خارجی به بلخ

ده تن از گردشگران خارجی از کشور های بریتانیا، چین، ترکیه و ناروی به بلخ سفر کردند.

عبدالواحد احدی آمر توریزم ریاست اطلاعات و فرهنگ بلخ به آژانس باختر گفت که ده تن از گردشگران از کشور های بریتانیا، چین، ترکیه و ناروی به بلخ سفر نموده و از... ص۳



## کندز کې د کوکنارو د له منځه وړلو ستر کمپاين پيل شو



د کندز ولايت امنيه قومندانۍ د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې پوليسو او امنيه قومندان پاسوال مولوي مطيع الله سيف الله په لارښوونه د کوکنارو د له منځه وړلو کمپاين پيل کړی دی. د دې ولايت امنيه قومندانۍ ويلي، د ياد ولايت ګل تپې ولسوالۍ کې د کوکنار پر ضد د کمپاين په ترڅ کې پنځه جريبه ځمکه د کوکنارو له کښت څخه په بشپړ ډول پاکه کړې ده. د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې مسئولينو وايي، د کوکنارو پر وړاندې د مبارزې کمپاين به يې تر هغې دوام ولري، تر څو يې په دې ولايت کې نشه يي توکي په بشپړ ډول نه وي له مينځه وړي. دا په داسې حال کې ده، چې د اسلامي امارت د مشرتابه د ۳۱... ۳مخ

## په سلګونو جريبه ځمکه د ميوه لرونکو بڼ جوړېدل



د ملي پراختيا شرکت مسئولين وايي، د بغلان ولايت د غوري سيمنټو فابريکې اړوند په سلګونه جريبه ځمکه د ميوه لرونکو ونو بڼ جوړ شوی دی. د ترقي په نوم دغه بڼ کې چې د څاڅکو په سيستم جوړ شوی زرګونه مېوه لرونکې ونې کېنول شوې، چې دغې سيمې ته يې د پام وړ ښکلا هم ورکړې ده. د يادونې ده، چې د اسلامي امارت ... ۳مخ

---


آمادگی پولیس ترافیک برای کنترول جاده‌ها در ایام عید سعید فطر ۲

دوه مخي، منافقت دی! ۲

جعلي ارزښتونه ۳

افغان اعلانات ۳

# دوه مخي، منافقت دی!

**لیکنه: م حمادشیرزاد**

په دفتر کې ناست وم، یو ښه ځوان- چې وجاهت او جلال یې هم د قدر وړ و، راننوت؛ له لږ ځیر کتلو وروسته مې وپیژند چې دا خو مې د دورې ملګری دی، له حال_ احوال پوښتلو وروسته مې ترینه د بوختیا او وظیفې په اړه وپوښتل؛ راته کړه یې چې د درس تر څنګ مې یوه اداره کې وظیفه هم پر مخ وړله، کال مې لا تیر کړی نه و، چې د یادې ادارې له یو مسؤل سره مې د ځینو حقایقو پر بنسټ بحث وشو، په فساد کې د ښکیلتیا او نورو اړوندو اداري ناچلو چارو مې یادونه ورته وکړه، خو سړی برګ شو او له ځینو تونډو خبرو وروسته ترینه زه خپل ځای ته ستون شوم، د وخت په تیرېدو یاد مسؤل د ځینو تهمتونو په ترلو یو او بل تدبیر جوړولو، هماغه و چې اوس بېکاره یم؛ خو درسونو ته مې مخه کړې. د اداري په اړه چې ما هم معلومات لرل، ورته مې وویل فلان خو ښه وجیه، پټکی پر سر، هر وخت د اداري خلکو ته مسایل هم بیانوي، ویل یې: ملګریه! داد خردجال زمانه ده، منافقت بیخي زیات شوی دی، د اکثرو خلګو په خوله یوه او په زړه بله وي، هغه چې موږ ته به یې پرون د اصلاح درس راکولو، له منافقت به یې وېرولو، نن خپله د منافقت پر لار روان دي، هغه چې پرون به یې موږ ته ویل، چاپسې تهمت ترل یا هم چغولي کول، د شیطان لاره ده، هیڅکله یې مه انتخابوئ، هغه چې پر منبر او درس کې به یې د عیش/ عشرت، پیسو، دنیا او نورو ناچیزه اړتیاوو قباحت بیانولو، نن یې د ترلاسه کولو لپاره هره روا او ناروا لاره نیسي، ځکه چې اوس په دغه لذت خپله روږدي شوي، پخوا خو یې څه لیدلي نه وه، ځکه یې د ړوند او کاڼه کانه کوله.

هغه ویل پوهیږې: ځیني خلګ تاته لکه د بني اسرائیلو د علماوو غونډې د دین او دینداری، امانتداری، اصلاح، خیانت او اخلاقو درس درکوي، خو له دوی ځان هیر وي؛ دوی د دنیاوي لذتونو د ترلاسه کولو لپاره هره ممکنه لاره لټوي، تر دې چې د شهرت، جاه طلبی، چاپلوسی او تملق په لټه کې وي، له ځان ټیټو خلکو ته په کمزوري نظر ګوري او یا هم هغه خلکو سره کار لري چې کمزوري ورته ښکاره شي، یا یې هم تملق او چاپلوسي نه کوي، خو له ځان پورته خلک او یا هم هغه چې یوه روپۍ/ دوه ګټه ورسوي، د هغه هرې ناروا ته به دلیل لټوي او مجال شته که په غلطۍ یې نظر هم ورڅرخوي؛ وینا او پر وړاندې یې دربدل خو پریږده.

د یاد ملګري په دغه حالت خپه شوم او له ځانه سره مې وویل چې خیر دا له فتنو او فسادونو ډک وخت دی، خامخا به په لسو کې ۲ سم او نور خطا وي، خو دا یو واقعیت دی چې په صفونو کې د داسې خلکو شتون، د لستوڼو د مارانو په څېر وي، دا هماغه خلګ دي چې یواځې اسایش، آرام، سکون او پیسه یې غرض وي، د نظام اولیتونه، ګټه او منافع خو پریږده؛ چې خپل آخرت هم ورځني هېر وي، دوی ته تر هر څه خپلې ګټې، کورنۍ، معاش، غر او پر خوند ورکوي، د خدای د بندګانو آزار، اداره او ولسي ګټو ته خو بیخي په رنده سترګه هم نه ګوري.

هغه ته مې ویل خفه کیږه مه؛ خدای به ښه ترتیب دروکړي، ورته مې وویل چې موږ په اولو قرنو او منځنیو کې ډیر داسې مثالونه د تاریخ له زرینو پاڼو لرو چې پاک صفونه او حکومتونه د نورو د چاپلوسیو، منافقتونو او نااهله خلګو په ادارو د ننوتلو له امله بدنام او یا سقوط شوي، زیات تاوان یې لیدلی، ایوبي رحمه الله، د بغداد عباسي خلافت، عثمانیانو د همدې منافقانو له امله سختې ضربې ولیدلې، پرمختګونه یې په شاتګونو بدل شول او اوسنۍ زمانه او ۱۵مه صدۍ ده، دا خو د قیامت نږدې وخت دی، اوس خو په سلو کې یو سم او نور منافقان وي، احتیاط به کوو او په داسې دور کې د دغه سپیڅلي نظام د ساتنې لپاره به د ټولو منافقانو، مفسدینو او شریرو عناصرو چې دوه مخي وي، پرده پورته کوو او نظام به ترینه ژغوروو ان شاءالله.

# جعلي ارزښتونه

**ګل رحمن رحماني**



له کنډوالو او ویرانو راوتلو وږو ماشومانو، ښځو او بوډاګانو له خپلو پناه ځایونو وړاندې د خوړو تر لاسه کولو انتظار کاوه، دا ځل له بم غورځوونکو الوتکو او چورلکو دومره وېره ورسره نه وه، ځکه چې د بمونو پر ځای یې د خوړو ور غورځولو وعده کړې وه، خو د یوې کڅوړې پراشوټ بند پاتې شو او له را لوېدو سره یې ګڼ وږي فلسطیني کډوال د خوړو تر لاسه کولو په هیله بلې نړۍ ته وکوچېدل.

د وحشت څپو وران کړي ښار غزې ماښامونه تېر کال د روژه ماتې په رڼا ګانو او خوړو رنګین وو، نسبي امن او د خلکو تر منځ تګ راتګ د روژې برکتونه ورباندې لورولي وو، خو دا ځل تېر څو ماښامونه د اوښکو، وینو او سلګیو ماښامونه دي. دلته د لویدیځوالو او ملګرو ملتونو جعلي ارزښتونه لکه بشري حقوق، انساني درنښت، ازادي، د ښځې خوندیتوب، ازادې رسنۍ، د ماشوم ساتنه، د ملکي وګړو او کورونو خوندیتوب، د تېرې مخنیوی او... هره شېبه ارزښت بایلي او خپل اصلي «مفهوم» څرګندوي.

د بیت المقدس په سپیڅلې خاوره دا د درد کیسه له نیمې پېړۍ زیاتې مودې سره تړلې ده، خو د تېرو څلورو میاشتو پانه یې د شپېتو زرو مسلمانو وګړو په یوویشتمه پېړۍ کې په رڼو سترګو د یوې ډله ییزې وژنې انساني تراژیدي ثبتوي او تر شا یې هغه څېرې بربنډېږي چې له خپلو جعلي شعارونو او ارزښتونو یې له لسیزو راهیسې نړۍ غولولې او د اسلامي هېوادونو د «مشرانو» پراخ بنسټه زړونه یې ورباندې تسخیر کړي دي.

زموږ د خواخوږۍ او مرستې وروستۍ وسیله بیا هم دغه معاصر وحشت ځپلو انسانانو ته دعا ده، هغه دعا چې روژه کې تر نورو وختونو لاځواکمنه او اغېزناکه وي، خو په ګڼو اسلامي هېوادونو کې یې هغوی ته پر رسمي او عامه دعا هم بندیز لګولی، هغه هم له دې وېرې چې د دوی د ارزښتونو ایجادګر او ښاغلي قاتلان به خپه شي.

# آمادگی پولیس ترافیک برای کنترول جاده‌ها در ایام عید سعید فطر

**داوود ناظری**

همه ساله با فرا رسیدن عید سعید فطر، ازدحام و تردد مردم در شهر و جاده‌ها بیشتر و ترافیک نیز چندین برابر افزایش می‌یابد که این مسئله سبب افزایش حوادث ترافیکی گردیده و باعث مشکلات و ضیاع وقت همشهریان ما می‌گردد.

اما امسال همزمان با نزدیک شدن عید سعید فطر، مسئولان ریاست عمومی ترافیک از تطبیق طرح جامع بخاطر کنترل کامل جریان ترافیک در سطح کشور و شاهراه‌ها خبر می‌دهند. پوهیالی عبدالودود خیرخواه آمر پلان و پالیسی ریاست عمومی ترافیک به روزنامه شریعت می‌گوید حدود ٦ هزار پولیس ترافیک در سطح کشور برای کنترل جاده‌ها، شاهراه و شهرها توظیف شده اند. به گفته وی، این طرح از روز شنبه ۱۹ حمل ۱٤۰۳ آغاز می‌شود. به گفته او تمامی فعالیت های جریان ترافیکی از قبیل، توقف بی مورد، سن و وضعیت روحی رانندگان، اسناد موترها و سرعت رفتار آنان کنترل می‌شود تا مردم بتوانند روزهای عید را به خوبی و بدون حوادث و رویدادهای ترافیکی سپری کنند. آقای خیرخواه گفت علاوه بر پولیس ترافیک، نیروهای امنیتی نیز با آنان همکار است.

آقای خیرخواه از همه مردم چه کسانی که از پیاده رو ها استفاده می‌کنند و چه کسانی که با واسطه نقلیه وارد جریان ترافیک می‌گردند، می‌خواهد که برای مصونیت خودشان و دیگران، قوانین ترافیکی را رعایت کنند. آمر پلان و پالیسی همچنان از تطبیق طرح تازه و معیاری در سال ۱٤۰۳ نیز خبر می‌دهند تا آمار حوادث کاهش یابد.

امان یکتن از موترداران در شهرکابل می‌گوید فعلا که جاده ها و سرک ها بهتر شده، اما جست و خیز کودکان، بی احتیاطی خانواده ها، کمبود پل‌های هوایی و توقف بیجای بعضی موترداران، سبب بی نظمی در جریان ترافیک و افزایش حوادث ترافیکی گردیده است. او خواهان جدیت در تطبیق قوانین ترافیکی از سوی مردم و نیروهای امنیتی گردیده است.

این درحالی است که در سال گذشته بیشترین آمار تلفات را رویدادهای ترافیکی به خود اختصاص داده بود. بر اساس آمارهای رسمی حدود یک هزار تن کشته و تعدادی زیادی هم زخمی شدند. دیده شود که امسال این طرح‌ها و تلاش‌ها تاچه اندازه نتیجه‌بخش خواهد بود؟



# سیاسي بصیرت

**لیکوال: مفتي وقایت الله وقار**

د روانو چارو په اړه پوهه او په خاصه توګه سیاسي بصیرت د هر داعي مسلمان دنده ده او ددې لامل هماغه مشهوره قاعده ده: ما لایتم الواجب الا به فهو واجب، یعنې: که واجب د یوه کار نه پرته نه ترسره کېدل، دغه کار هم لازم کېږي. په نن ورځ کې باثباته ژوند او پرمختګ تر هغې شوني نه دی، تر څو چې فرد د فرد او ټولنه او ملت په مجموعي شکل د اوسنیو وګړو او د هغوی د سیاستونو په اړه پوهه ونه لري. له سیاسي بصیرت څخه زموږ هدف په هماغه تصور باندې چې اسلام د ژوند بشپړ نظام دی، د اسلام د سیاسي نظام بشپړه مطالعه ده او له نورو نظامونو سره یې پرتلنه ده، کله چې یو څوک خپل دوستان ونه پېژني؛ نو پردي نه شي پېژندای، همدغسې خبره دلته هم ده، کله چې یو څوک د خپل دین ټول اړخونه او په ځانګړې توګه سیاسي نظام ونه پېژني؛ نو هغه ته ددې معلومات نه کېږي چې برتري او بهتري په کوم لوري کې ډېره ده؟ او په دې اړه خو عربان مشهوره مقوله لري: الناس أعداء لما جهلوا. یعني: خلک د هغه څه دښمنان دي چې پرې پوهېږي نه. دا نن چې په مسلمانو ټولنو کې د اسلام د سیاسي نظام د اقامې مخالفت کېږي، تر ډېره یې لامل همدا دی چې وګړو دا هېره کړې چې دین او دین ته منسوب وګړي جلا جلا شیان دي، د اسلام سیاسي نظام جدا شی دی او د نن وګړي جدا خلک دي، د ډېرو خلکو ستونزه داده چې دوی داسې انګېري چې د اسلام سیاسي نظام هماغه دی چې په انساني تاریخ کې یې کوم شعارونه پورته شوي دي، مګر کله چې د واک ګدۍ ته رسېدلي، بیا یې په هر ډول ناروا لاس پورې کړی او په هیڅ ډول فساد او بې لارۍ صرفه نه ده کړې. دغه خلک باید په دې پوه شي چې موږ چې په کوم ډول سیاسي نظام باور لرو، د هغې غوره ایډیال په لومړنۍ هجري پېړۍ کې وړاندې شوی دی او که د چا خوښه وي، هغه دې ولولي، په ځانګړې توګه د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما دورې دې ولولي چې د انسانیت په ټولو بعدونو د اسلام په زرینو وړانګو خبر شي او پوه شي چې رواني ټولې ستونزې د اسلام په علاج حل کېدای شي.

د سیاسي بصیرت د سکې یو اړخ خو داوو چې ذکر شو، بل اړخ چې تقریبا دلته ډېر مراد دی، هغه دادی چې د نن مسلمانان باید په سیاست باندې اګاه اوسي، په اوسني عصر کې باید څوک دا ونه وایي: سیاست چل او دوکې ته وایي او موږ له دغه چل او دوکې څخه بې زاره یو. دا د هغه چا خبره ده چې یا پوهېږي نه او یا یې ځان په لټۍ وهلی دی او د نوې مطالعې او تحقیق ذوق پکې نه شته او یا هم فکري استعمار ځپلي دي. دغه خلک چې سیاست سراسر شر او بد ګڼي او په اصطلاح دوکه او چل یې ګڼي، باید متوجه شي چې د دوی د خبرو نتایج ډېر بد دي، که یو څوک هر سیاستمدار او د سیاسي نظام دعوتګر دوکه مار ګڼي؛ نو بیا دې د خیر القرون د پېړیو په احترام لږ توقف وکړي، کله چې زموږ لومړنی نسل (صحابه کرام رضي الله عنهم) په سیاست او اداره باندې نه داغداره کېږي، ولې د نن زماني خلک داسې شي؟ دا د فکري یرغل هغه نتیجه وه چې دلته په بیا بیا توګه شوې دی او خلکو ته یو داسې تصور ورکړل شوی چې دین او سیاست سره جلا شیان دي، موږ د درستې دیني پوهې تر عنوان لاندې دا خبره وکړه چې دین د ژوند بشپړ نظام دی او لکه څنګه چې دلته عبادات مهم دي، معاملات هم مهم دي، بلکې معاملات او د انسان د ژوند هره شېبه او آن خوب هم که چېرته د اسلامي اصولو په چوکاټ کې وشي، په عبادت باندې بدلېږي.

زموږ په ټولنه کې یوه بده مقوله داده چې وایي: ملا او سیاست؟! یعنې ګویا دوی له دیني عالم سره دا مناسبه نه ګڼي چې په سیاسي چارو کې دې نظر ورکړي او یا دې نېغ په نېغه پکې ګډون وکړي. ولې ددغې مقولې ویونکي نه متوجه کېږي چې دیني عالم د رسول الله صلی الله علیه وسلم وارث دی، پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خپل وخت د پیغمبرۍ تر څنګ حاکم، خلیفه او پاچا هم وو، کله چې عالم د پیغمبر وارث ګڼو؛ نو باید په ټولو هغو چارو کې یې وګڼو چې انسانیت ته مهمې دي او پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې هم په اقوالو او افعالو سره اهمیت ښکاره کړی وي؛ اسلامي سیاست په هغه نظامونو کې راځي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې نه یوازې دا چې په خبرو کې ډېر تائید کړی، بلکې په خپله یې په مستقیمه برخه اخیستنه سره لازیات منور کړی دی. له دغه حضراتو څخه که یوه پوښتنه وشي، چې که چېرته له سیاسي ډګره وروسته کېدل بزرګي او نېکي وي؛ نو حضرت أبوبکر صدیق، حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان غني، حضرت علي حیدر رضي الله عنهم چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم په منځ کې په همدغه ترتیب تر ټولو غوره صحابه دي او همدا د اهل السنة و الجماعة عقیده ده، ولې له دغه ډګره نه وروسته کېدل، مګر موږ په رڼو سترګو وینو چې تر رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته تر ټولو افضل صحابي؛ حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د سیاسي نظام د اقامې په خاطر خلیفه ټاکل شوی دی، بیا حضرت عمر فاروق چې تر ده په مقام کې ښکته دی، بیا حضرت عثمان غني چې تر مخکنیو دواړو په رتبه کې ښکته دی او بیا حضرت علي حیدر چې له مخکنیو درېو څخه کشر وو. له پورته کرښو څخه په استفادې ویلای شو چې هر هغه څوک چې ځان د یوه روښانه راتلونکي په لور بیایي او غواړي چې روښانه مستقبل ولري، باید سیاسي بصیرت ولري، د اوسنیو سیاستونو په مکرونو او چلونو پوه شي او تر دې هر څه وړاندې باید په هغه بدیل سیاسي نظام اګاه اوسي چې د ټول انسانیت او ټولو کایناتو لپاره خیر خوا دی او پرته له شکه هغه د اسلام د مبارک دین سیاسي نظام دی، ددې خبرې سلګونه دلایل په انساني تاریخ کې ثبت دي.

د سیاسي نظام اصلاح دومره مهمه ده چې زموږ لوی صوفي عالم او امام فضیل بن عیاض رحمه الله وایي: که زما لپاره د یوې داسې دعاء فرصت راکړل شي چې هغه حتما قبلېږي؛ نو زه به د پاچا او حاکم د اصلاح دعاء وکړم، چا ورته وویل: ددې څه مطلب دی؟ هغه کړه: که دعاء زه د ځان لپاره وغواړم؛ نو ګټه یې فقط ماته ده، اما که د پاچا او حاکم لپاره یې وغواړم؛ نو د هغه اصلاح بیا د ټولې ټولنې اصلاح ده. حافظ ابن تیمیه رحمه الله فرمایي: دغه خبره له امام أحمد او نورو سلفو رحمهم الله څخه هم نقل شوې ده. مناسبه به وي چې دلته د استاذ نجم الدین أربکان رحمه الله هغه خبره راواخلم چې په سرو زرو د لیکلو ده، هغه وایي: تُریدون مني أن أقعد في المسجد و تعلمون ولدي کراهیة الاسلام في المدرسة لیعود ولدي و یهدم المسجد فوق رأسي. ژباړه: تاسو له مانه دا غواړئ چې کرار په جوماتونو کې کېنم او بیا نو زما بچي ته د اسلام بدي ورزده کړئ، دا ددې په خاطر چې هغه را وګرځي او جومات په ما را ړنګ کړي.

سیاسي بصیرت له دې کبله هم مهم دی چې له شره یې ځانونه وساتو او د استاذ سباعي رحمه الله په تعبیر: سیاست لکه د لوی ماهي په څېر دی چې تر ځان کوچني شیان ښویه تېروي.

# د ګناهونو دنیوي زیانونه!

## امان الدین قاسمي

**دنیا کې دوه ډوله انسانان ژوندکوي**
لومړی: مسلمانان
دوهم: کافران
د مسلمان تعریف: د ژوند په ټولو برخو کې د الله او د هغه د رسول فرمانونو ته تابع، د نفسي خواهشاتو پر ځای په هر څه کې د الله او د هغه د رسول له لوري لیږل شوي شریعت ته ترجیح ورکوونکي له هغو کارونو څخه چې الله او رسول پرې خفه کیږي او د هغوی په شریعت کې ممنوع اعلان شوي، ځان ،خپل ماتحت او کورنۍ ساتونکي ته مسلمان ویل کیږي.
خو هغه مسلمان چې د یاد تعریف مصداق نه وي، او داسې کارونه کوي، چې شریعت کې منع شوي، ګناهګار بلل کیږي داچې ګناوهونه، څو ډولونه لري؟ د توبې طریقه یې څه ده؟ په اخرت کې د هر ډول ګناهونو لپاره کومې سزاګانې ټاکل شوي؟ دا به پرېږدو، دیته به راشو چې الله پاک د خپل او د پیغمبر نافران( ګناهګار) ته په دنیا کې کومې سزاوي ورکوي؟ هغه سزاګانې په لاندې ډول دي:
۱- ګناه کوونکي څخه د طاعت عبادت توفیق سلبیږي.
۲ - هوښیاري او پوهه یې له منځه ځي.
۳ - د حقې وینا جرات یې ختمیږي.
۴-زړه فاسدوي.
۵-دقیمتي وخت ضیاع ده
۶ - له خلکو څخه د نفرت لامل کیږي.
۷-په زړه کې د الله له ذکره وحشت پیدا کوي.
۸- د ګناهکار دعا نه قبلیږي.
۹-زړه سختوي.
۱۰ - د عمر او رزق برکت له منځه وړي.
۱۱- له بدو خلکو سره د ناستې ولاړې باعث کیږي.
۱۲- ګناوې غمونه او فکرونه ډېروي.
۱۳- د رحمت د بارانونو مخه نیسي.
۱۴- د زړه د کمزورۍ او اضطراب لامل کیږي.
۱۵- سکون، راحت،خوشالي او اطمنان له منځه وړي.
۱۶- حیاء او غیرت ختموي.
۱۷- په زړه کې ډار او وېره پیدا کوي.
۱۸- په ژوند کې ستونز، کړاونو او مصیبتونو ته لار هواروي.
۱۹ - د توبې توفیق له منځه وړي.
۲۰- د خدای د لعنت لامل کیږي.
مصادر ومراجع:
الذنوب واثره السي للامام ابي الفرج عبدالرحمن بن الجوزي رحمه الله: ۲۸.
خلاصة المسایل.

## ترکیه کې ۳۰ افغانان مړه...

تم شویو افغانانو د موندلو لپاره پوره هڅې وکړي .په اعلامیه کې ویل شوي چې له دې پېښې څلور تنه افغان کډوال ژغورل شوي هم دي.
تر اوسه د ډوبو شویو افغانانو د هویت په اړه څه نه دي ویل شوي او نه هم مالومه ده چې دوی په کومو ولایتونو پورې تړاو لري.
په اعلامیه کې پر هیوادوالو غږ شوی چې نورو هیوادونو ته په قاچاقي لارو له سفر ډډه وکړي او د خپل هیواد په ابادۍ او سوکالۍ کې ونډه واخلي. کډوالو وزارت دغه شان په بهر کې له مېشتو افغانانو هیله کړې چې خپل هیواد ته راستانه شي او په خپل هیواد کې پتمن ژوند غوره کړي.

## سفر ده گردشگر خارجی...

جاذبه‌های تاریخی و طبیعی این ولایت دیدن کردند.
به اساس آمار ارایه شده ،در سال گذشته ۸۳۳ گردشگر خارجی و در شانزده روز گذشته ۲۷ گردشگر خارجی از مکان های تاریخی ولایت بلخ دیدار کردند.

## د شهید سردار محمد داوود خان په روغتون...

ماشین د اکسیجن او نایتروجن تولید ورتیا لري چې په اړونده برخو کې د اور وژنې لپاره کارول کیږي
یادې دستګاه د افتتاح مراسمو کې د روغتیایي چارو قومندانۍ رئیس ارکان اداري او اوپراسیون مرستیال، د مرکزي روغتون قومندان، د لوژستیکي حمایې قومندان او یو شمېر مدیرانو برخه اخیستې وه.
د یادولو وړه ده چې د اسلامي امارت په راتک سره نوموړي روغتون کې زیات شمیر درملیز وسایل نوي رانیول شوي او غیر فعال ماشینونه رغول شوي او کټې اخیستني ته سپارل شوي دي.
**سمیع الله مومند**

## له پاکستانه تر نوي زرو زیاتې...

له قوله راپور ورکړی چې د یادو کورنیو د وګړو شمېر ۵ لکه ۳۵ زره او ۵۶۲ تنه کېږي چې په جبري ډول هېواد ته راستانه شوي دي. ښاغلي عبدالرحمن ویلي، د بېرته راستنو شویو کورنیو ۷۰ سلنه یې په ننګرهار ولایت کې ځای پر ځای شوې، چې د اسلامي امارت او مؤسسو له لوري ورسره په بېلابېلو برخو کې مرستې شوې دي.
نوموړي زیاته کړې، چې ممکن له را روان کوچني اختر وروسته د بېرته راستنېدونکو کډوالو دویمه جوپه پیل شي، او مرستندویه بنسټونه باید په دې برخه کې مرستې وکړي.

## د کندهار دهلي بند د ګرځندویانو او...

د جوړ د دغه بند اصلي برخه د ۵۵ متره لوړوالي او ۵۳۵ متره اوږدوالي په لرلو سربیره غربي اړخ ته له ۱۵ څخه تر ۲۵ مترو لوړوالي سره ۶ واړه بندونه هم لري، تر څو د اوبو سطحه لوړه کړي. په همدې ترتیب سره د دغې بند ټول اوږدوالی ۲۰۴۰ مترو ته رسېږي، چې د پرچاوي برخه یې په کلکه ډبرینه برخه ډیزاین شوې تر څو اضافي اوبه لاندې پرېږدي او د کرنې لپاره اوبه د بند د ټیټې برخې د دروازو په مرسته کنټرولیږي. د کندهار ولایت د دهلې بند، چې په مجموعي ډول د ۳۱۴ میلیونه متر مکعبه اوبو ذخیره کیدو ظرفیت لري، چې د ۷۰ کلونو په تېرېدو سره یې ۳۴ سلنه زېرمه له خاورو ډکه شوې ده. اسلامي امارت غواړي، چې دغه بند له ۱۰ څخه تر ۱۲ مترو پورې لوړ کړي، تر څو د اوبو د زېرمې کچه یې ډېره او د ۲۲ میګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت پیدا کړي. یاد بند د شاوخوا ۳۰زره هکتاره کرنېزې ځمکې د خړوبولو ظرفیت لري، چې اوس مهال یوازې شپږ میاشتې کروندګرو ته اوبه ورکولای شي. دغې بند ته هر کال د کندهار ښار او نورو ولایتونو څخه په سلګونو سیلانیان د سیل او تفریح په موخه ورځي.

## تطبیق شماری پروژه ها برای تقویت...

سروری، رئیس اداره زراعت، آبیاری و مالداری فراه به آژانس باخترگفت که برای تطبیق این پروژه ها، نود وپنج ملیون افغانی هزینه شده است.
با تطبیق این پروژه ها، آب مورد نیاز هزاران جریب کشتزار دربخش هایی ازفراه تامین شد و همچنان درتقسیم بندی آب های زراعتی، سهولت به میان آمد. ازسویی هم با ساخت دیوار استنادی، ازآسیب های سیلاب های احتمالی برکشتزار ها و خانه های مردم، جلوگیری شد.
شهروندان فراه، ازتلاش های امارت اسلامی برای تطبیق پروژه های توسعه یی استقبال کردند و آن را باعث رفاه شان خواندند.

## د مالي فساد په تور د پنځه

د مالیې وزارت د معلوماتو له مخې دغه کارکوونکي او ورسره درې تنه کارګر د یوه سوداګریز شرکت د کارکوونکي په لارښوونه، د پیسو په بدل کې د یاد شرکت له وارداتي توکو څخه قیمتي توکي غلا او یاد کارمند ته یې سپارلي و، چې د ګمرک د مسئولینو په هلو ځلو ټول تورن کسان نیول شوي او په خپل جرم یې اعتراف کړی دی. یاد کسان د نورو څېړنو او اجراتو په موخه عدلي او قضایي ارګانونو ته سپارل شوي دي.

## روز جهانی آگاهی از ماین؛در سه ماه گذشته...

طبیعی، در نتیجه انفجار ماین‌های یادشده ۳۸ تن در کشور جان باخته و ۷۱ تن دیگر زخمی شده‌اند. بیشتر قربانیان ماین‌ها و مهمات منفجر ناشده در کشور کودکان هستند. چهارم اپریل بربنیاد تقویم جهانی، برابر است به روز جهانی آگاهی از ماین. سه روز پیش سازمان ملل متحد اعلام کرد که بیش از ۳ هزار کیلومتر اراضی آلوده افغانستان از وجود ماین‌ها، پاک‌سازی شده است. در حال حاضر نیز روند پاک‌سازی اراضی آلوده افغانستان با ماین‌ها و مواد انفجاری، جریان دارد.

## امنیتي ځواکونو یو ماشوم ...

تړاو یې یو کس هم نیول شوی دی. د ښاغلي جمشېد په خبره، نیول شوي کس په خپل جرم اعتراف کړی او ویلي یې دي، چې ماشوم یې دپیسو د ترلاسه کولو په موخه تښتولی وو. دا په تېرو څو اونیو کې څویم ځل دی چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د انسان تښتونکو له لوري ماشومان تښتول کېږي، خو د زړورو امنیتي ځواکونو د چټکو اقداماتو په صورت کې بیرته په یوه او یا څو ورځو کې ژغورلي او له خپلو کورنیو سره یې یوځای کړي دي.

## اعضای اتحادیه نمک‌فروشان...

در این دیدار سرپرست وزارت معادن و پترولیم مشکلات اعضای اتحادیه نمک فروشان را نیز استعما کرد.
گفتنی‌است که پس از حاکمیت امارت اسلامی تلاش‌ها جهت معیاری‌سازی استخراج معادن مختلف کشور، به شدت جریان دارد.

## په سلګونو جریبه ځمکه...

په راتګ سره نه یوازې داچې د دغو فابریکو په تولید کې زیاتوالی راغلی، بلکې د دغو فابریکو په شاوخوا کې په سلکونه جریبه شاړه ځمکه هم په یوه ښکلی بڼ بدله شوې ده.

## استخدام بیش از ۸۰ تن از فارغان...

برخی رئیسان وزارت ترانسپورت و هوانوردی برگزار شد.
وزارت ترانسپورت و هوانوردی تلاش می‌کند که با استخدام این فارغان، بخش هوانوردی و تخنیکی میادین کشور خودکفا شوند.

## د فرهنګ او هنر معینیت د قرآن د نزول...

وګړو پکې ګډون کړی وو. د غونډې لومړۍ برخه کې ځینو مسوولینو د قران او روژې په مناسبت خبرې وکړې، دویمه برخه یې د قران د تلاوت کولو او درېیمه برخه د قراني ایتونو نندارتون و، چې د ځینو چارواکو لخوا یې پرانیسته وشوه.
یاده غونډه کې د اطلاعات او کلتور وزارت، د خلکو او فرهنګ رئیس سیف الرحمن محمدي د پیل وینا کې له راغلو خلکو مننه وکړه او ویې ویل چې مونږ دلته د قران او روژې په مناسبت راټول شوي یو او لمانځو یې.
د یاد وزارت د فرهنګ او هنر معین عتیق الله عزیزي خوښي وښوده چې د روژې په وروستۍ لسیزه کې د قران د نزول په مناسبت اړوند غونډه کې سره ټول شوي یو. هغه و ویل: دا خبره لکه لمر ښکاره ده او حقیقت لري، چې رمضان المبارک او قران عظیم الشان، د اسلامي امت د وحدت د مسلمانانو د انسجام، اخوت، مینې، ورورولۍ او د الهي عبادت یو داسې عبادتونه او لورینې دي، چې مونږ ته الله تعالی د دې امر کوي او دا راښایي چې تاسې باید متفق، متحد و اوسئ، په خپلو لمنځو کې اختلاف ونه کړئ، په تاسې کې د هر رنګه رنګونو، قومونو، لسانونو، سمتونو، هېوادونو، مذهبونو چېنتنان و اوسئ، هغه په خپل جای خو د الله تعالی د عبادت په وړاندې چې مونږه او تاسې درېږو، چې هغه خدایي کلام دی او رمضان مبارک ده په دې کې بیا ټول حله شوې. نوموړي روژه او قران د اسلام هغه څه یاد کړل، چې په وینا یې مسلمانان په کې اختلاف نلري او یو نظري دي. هغه قران یوازې د مسلمانانو لپاره نه بلکې د ټول انسانیت لپاره د پیغام سرچینه ګڼي او وایې چې قران د هر ملت، وخت او ترقۍ لپاره دی. نوموړي همدا رنګه زیاته کړه: زمونږ او تاسې سعادت، نېکبختي او کمال په دې کې ده، چې په همدې قرانکریم باندې تمسک وکو او د دغه قرانکریم له هغه پیغامه څخه چې هغه یو افاقي او نړۍ شموله ده، له هغه څخه مونږه او تاسې استفاده وکو.
د ارشارد، حج او اوقاف وزارت معین عزیزالرحمن منصور قرانکریم هغه پوهه، هدایت او رڼا ګڼي، چې په وینا یې له دې اوچته پوهه، رڼا او هدایت نشته دی، چې خدای پاک ټولې کامیابۍ له خپل کلام سره تړلې دي. ښاغلی منصور وایي چې هغه څه له نورو بهتره دي، چې نسبت یې له قران سره شوی وي، چې په وینا یې په همدې وجه لوح محفوظ، جبرایل(ع)، مکه او مدینه، ورقې نسبت نورو ته لوړ مقام لري، ځکه چې تعلق یې له قران سره دی. نو په همدې وجه د روژې میاشت هم له نورو میاشتو غوره ګڼي چې په وینا یې قران په همدې میاشت کې نازل شوی دی. نوموړی د پوهې په اړه وایي: پوهه په درې ډوله ده، یو خو د حواسو خمسوو پوهه ده، چې مونږ او تاسې ټولو حیواناتو ته خدای راکړې؛ د عقل پوهه چې انسانان، پېریان او ملایکې یې لري؛ د وحې پوهه چې د خدای پاک پوهه ده، دا هغه پوهه ده چې نه ورته حواس خمسه رسېږي او نه عقل. ښاغلی منصور همدارنګه وایي، چې روژه نه یوازې د قران د نزول بلکې د ټولو اسماني کتابونو د نزول میاشت ده.
د افغانستان د اسلامي امارت د چارو اداري لوی رئیس شیخ نورالحق انور یاد جشن د مسلمانانو لپاره ویاړ ګڼي او وایي چې خدای پاک د انسان له پیدایښت وروسته دوه سلسلې په کار واچولې چې یوه د خدای د کتاب(کتاب الله) او بله د خدای پیغام رسونکو(رجال الله) سلسله ده. نوموړی وایي چې لومړی انسان ادم(ع) و او ورسره صحیفې هم وې، خو د خدای اخري استازی حضرت محمد(ص) او اخري کتاب قرانکریم دی او همدا پیغمبر او کتاب تر قیامته پورې د انسانانو د مشکلاتو حل دی. هغه وایي، چې قران د تیارو، دوښمنۍ او جهالت له منځه وړونکی او د مینې، یووالي، ورورولۍ او د دنیا او اخرت نېکبختي ده او همدا قران د انسان لپاره یو هر اړخیزه قانون دی، چې وایي: قرانکریم دا یو دستور او قانون دی، د انسان لپاره کوم چې له دې نه بالاتر بل قانون ګرځېدی نسي او د دې قانون په موجودیت کې بیا بل څه تصور کول دا جرم، ګناه بلکې کفر ده. هغه د قانون جوړونکي لپاره څلور ځانګړنې(علم محیطه، شفقت، مطلق قادریت، غیرجانبداري) مهمې ګڼي او وایي چې خدای پاک دا ټولې ځانګړنې لري. دی وایي، چې د خارجیانو هغه قانون چې په افغانانو یې په زور مانه، افغانانو ته د زغملو نه و او د دوی ماته هم د افغانانو په قرانکریم عمل کولو کې وه. دهٔ د روسانو ماتې ته په اشارې وویل چې له دې ماتې وروسته نورو هېوادونو هم ومنله چې یو کمزوری ملت هم کولی شي، چې د ایماني وسلې په زور دغسې مرحلې ته ورسېږي او د افغانستان له بریا سره نړۍ ته د کامیابۍ طریقې په لاس ورغلې.
**تاج محمد بهار**

## کندز کې د کوکنارو ...

ګنې د فرمان په اساس په ټول هېواد کې د نشه یې توکو کښت، پېر، پلور او قاچاق منع شوی، چې په ترڅ کې یې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې پولیسو د هېواد په ګڼ شمېر ولایتونو کې په زرګونو جریبه ځمکه د کوکنارو له کښت څخه پاکه او په تړاو یې په لسګونو کسان نیولي دي.

## د بهرنیو بې پیلوټه الوتکو د مخنیوي ...

زمونږ لپاره تر ټولو اسانه او بې ضرره لار ده. تردې چې مونږ کولی شو د هغوی د دیني علماؤ، اسلامپالو شخصیتونو ډلو او په تېره د پښتونخوا او بلوچستان د ټولو مخورو اشخاصو په واسطه د پاکستان حکومت او پوځ پردې قانع کړو چې افغانستان سره د ورور ګلوۍ اړیکې ولري او د پردیو له مزدورۍ تېر شي. خو د دغو اړیکو جوړول هم پوره عقل، حکمت او فراست غواړي.

# افغان اعلانات

**اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد**
بدینوسیله به تأسی از فقره (۱) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود:
ریاست تدارکات ملی اداره امور ا.ا.ا به نماینده گی از شاروالی محترم کابل در نظر دارد، پروژه امور ساختمان سرک از پل حسن الی باغ چهل ستون تحت شماره داوطلبی NPD/KM/1402/W-028/NCB را به شرکت ساختمانی برایت بلدرز آدرس کارته نو، مرکز کابل به قیمت مجموعی ۷۳,۹۶۵,۹۴۸ (هفتاد و سه میلیون و نه صدو شصت و پنج هزار و نه صدو چهل و هشت) افغانی»، اعطاء نماید.
اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست عمومی اداره ا.ا.ا، ریاست تدارکات ملی، معاونیت تخنیکی، آمریت تسهیلات تدارکاتی، منزل اول، پشتونستان وات، کابل - افغانستان؛ وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

**اطلاعیه**
د افغانستان بانک قبلا جواز شماره DAB/1- 0940 را به اسم شرکت صرافی و خدمات پولی محمد هارون کریمی در دکان شماره ۳۵ منزل اول مارکیت حمید صادر نموه بود اکنون حسب درخواستی سهمداران شرکت فوق الذکر ، میخواهند که مقدار ۴۰٪ سهم استحاقی شرکت خویش را به آقا سید روح الله عقیل فرزند سید حسین عقیل واگذار نمایند. ۲۷۵

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**
محترم عبدالحکیم غیور فرزند عبدالعزیز ولدیت بازگل دارنده تذکره نمبر ( ۲۴۸۹۶- ۰۳۰۰- ۱۳۹۸ ) مسکونه اصلی ولایت ننگرهار مالک امتیاز دواخانه منیری واقع ناحیه دوازدهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم قدرت الله کریمی فرزند بسم الله کریمی ولدیت عبد الکریم دارنده تذکره شماره (۷۰۳۲۰- ۱۱۰۳- ۱۳۹۹) مسکونه اصلی ولایت لوگر گردیده است.
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۲۷۴

***

**اطلاعیه مفقودی**
یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم جان محمد فرزند محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۲۶۸

***

**اطلاعیه تقرری**
قرار است محترم سید آقا فرزند خان میر دارنده تذکره شماره ( ۹۶۵۸۴ ) مسکونه فعلی ناحیه ۷ در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید نامبرده اگر به دوایر و موسسات مسلویت داشته باشد الی مدت یک هفته به ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت. ۲۹۶

# Shariat
Daily

**Shariat**
**Published by**
**Islamic Emirate of Afghanistan**
**M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies**
0782080666
**Chief Editor : Farooq Ghaljai/** 0778635852
**Email: info@shariatdaily.com**
**WWW.shariatdaily.com** ویب سایت:

# شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Saturday 06 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 423


**خالد ځدراڼ:**

# کوچني اختر کې به امنیت د ډاډ وړ وي



کوچني اختر ته يې امنيتي تدابير سخت کړي او تمه ده، د اختر شپو ورځو کې امنيت د ډاډ وړ وي.
ښاغلي ځدراڼ زياته کړې، د کورنيو چارو، ملي دفاع وزارتونو، د استخباراتو عمومي رياست او د کابل امنيه قومندانۍ رهبري په لويه کچه پلان جوړ کړی او په دې برخه کې په ګډه کار کوي.
نوموړي همداراز ويلي، چې د کابل ښار د څلورو زونونو له اوسېدونکو، سپين ږيرو او ناحيو وکيلانو سره يې هم د همغږۍ او همکارۍ په موخه ځانګړې ناستې کړې دي.
د کابل امنيه قومندانۍ وياند خالد ځدراڼ زياتوي چې د کابل امنيه قومندانۍ رهبري د کابل ښار د ټولو حوزو امرينو، امنيه قومندانانو، جزتامونو او کنډکونو سره ځانګړې ناسته کړې ده. د ښاغلي ځدراڼ په قول، ددغې ناستې موخه د اختر په شپو ورځو کې ځانګړي امنيتي تدابير نيول دي.
خالد ځدراڼ له رسنيو سره په خبرو کې ويلي چې راتلونکي

# ملي راډيو تلويزيون او لويو پوځي مرکزونو کې د قرآنکريم د ژباړې او تفسير دوره بشپړه شوه



د ارشاد حج او اوقافو وزارت له لوري د هېواد په ۲۶۰ لويو پوځي مرکزونو او ملي راډيو تلوېزيون کې د قران کريم د ژباړې او تفسير دوره پای ته رسېدلې ده.
ويل کيږي چې په دغه دوره کې زرګونو مجاهدينو ګډون کړی وو.
د قرانکريم د تفسير او ژباړې دغه دوره د اميرالمؤمنين حفظه الله په حکم په پښتو او دري ژبو د شعبان المعظم په لومړۍ نېټه پيل شوې وه او تېره ورځ د روژې په ۲۵ مه پای ته ورسېده.
د ويلو ده چې د اسلامي امارت د بياواکمنۍ راهيسې دا دريم ځل دی چې د روژې په مبارکه مياشت کې د هېواد په کچه په ټولو لويو نظامي مرکزونو او ملي راډيو تلويزيون کې د ژباړې او تفسير دورې بشپړيږي.

# شهيد سردار محمد داوود خان په روغتون کې د نايتروجن ماشين پر کار واچول شو

**شريعت:** د شهيد سردار محمد داود خان روغتون مسوولين د شريعت ورځپاڼې خبريال ته ويلي چې د ستر درستيز د روغتيايي چارو قومندانۍ هيئت رهبري په هڅو او په ځانګړې توګه د روغتيايي چارو قومندان ډاکټر محمد طاهر «احرار» د ځانګړې پاملرنې په پايله کې د روغتون د عصري او پرمختلليو طبي وسايلو سمبالولو سره دا ځل د روغتيايي چارو قومندانۍ د نايتروجن ماشين چې د ډېرې مودې راهيسې غير فعال وو د روغتيايي چارو قومندان لخوا افتتاح او ګټې اخستنې ته وسپارل شو.
همدارنګه دا نايتروجن... ۳مخ



# له پاکستانه تر نوي زرو زياتې کډوالې کورنۍ خپلو مېنو ته راستنې شوي



د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت وايي، له پاکستانه د کډوالو جبري ايستل کېدو لړۍ له پيله تر دې مهاله ۹۲ زره ۲۸۶ کډوالې کورنۍ هېواد ته راستنې شوې دي. د ياد وزارت د ننګرهار ولايت د کډوالو چارو رئيس بازمحمد عبدالرحمن...
۳مخ

# د کندهار دهلي بند د ګرځندويانو او هېوادوالو ميله ځای



د کندهار ولايت د دهلي بند هر کال په ډکېدو او پارچاو کېدو سره سم د زرګونو هېوادوالو د مېلې او تفريح کوربه وي. تېر کال هم د ياد بند له اوبو څخه د ډکېدو او پارچاو کېدو وروسته د زرګونو هېوادوالو د ميلې او تفريح ځای ګرځيدلی وو. دغه بند د کندهار په ۴۰ کيلومترۍ کې موقعيت لري، چې د افغانستان يو له سترو بندو څخه شمير کيږي او د دې ولايت ۷ ولسواليو زراعتي ځمکو پر خوړوبولو سربيره د کندهار ښار اوسيدونکو ته د څښاک پاکې اوبه هم برابروي. ياد بند شاوخوا ۷۰ کاله وړاندې د امريکا په مالي او تخنيکي مرسته جوړ شوی دی.
له خاورو... ۳مخ

# تطبیق شماری پروژه ها برای تقویت زراعت درفراه



چند پروژه ی توسعه یی برای تقویت زراعت درفراه، تطبیق شد.
این پروژه ها شامل، ساخت کانال های آبیاری، سربند ها، سیستم های تقسیم آب و دیوار استنادی است.
مولوی شاه محمد حاجی... ۳مخ

# یک شبکه آب‌رسانی در کندز به بهره‌برداری سپرده شد

وزارت احیاء و انکشاف دهات می‌گوید، یک شبکه آب‌رسانی سولری با ارزش ۱۹۱ هزار دالر امریکایی در ولایت کندز به بهره‌برداری سپرده شده است.
بربنیاد خبرنامه، این شبکه در قریه «وکیل عبدالقیوم» در ولسوالی دشت ارچی ولایت کندز، ساخته شده است.
به گفته وزارت احیاء و انکشاف دهات هزینه این پروژه از سوی صندوق امانی بشردوستانه افغانستان و صندوق کمک‌های بشردوستانه ملک سلمان، پرداخت شده است.
با گشایش این شبکه، زمینه دسترسی ۲۷۰ خانواده به آب آشامیدنی صحی، در قریه یادشده فراهم شده است. این در حالی است که تلاش‌های امارت اسلامی و سازمان ملل متحد برای گسترش دسترسی شهروندان کشور به آب صحی همه‌روزه ادامه دارد.

# د مالي فساد په تور د پنځو تنو نيول



ماليې وزارت خبر ورکړی، چې د هرات ولايت په ګمرک کې د ياد ګمرک د يوه کارکوونکي په ګډون پينځه تنه د مالي فساد او غلا په تور نيول شوي. ياد وزارت ويلي، په نيول شويو کسانو کې يو تن د هرات ګمرک د زيرمه تونونوکارکوونکی، يو تن د سوداګريز شرکت کارکوونکی اودرې تنه کارګر د همدې شرکت د سوداګريزو توکو د غلا او مالي فساد په تور نيول شوي.
۳مخ

# رویدادهای خارجی

**د مسلمانو علماوو ټولنه:**

## د صهيونستي رژيم د بې عدالتيو پر وړاندې سره يو موټی شئ

د مسلمان علماوو نړيوالې اتحاديې د يوې اعلاميې په خپرولو سره په غزه کې د صهيونستي رژيم بريدونه او بې عدالتۍ غندلي دي. يادې اتحاديې پر اسلامي نړۍ غږ کړی چې په غزه کې دې روانه ټولوژنه ژر تر ژره ودرېږي او بايد د يادې نسل وژنې پر وړاندې جدي اقدامات وشي.
دغې اتحاديې په غزه کې يو ځل بيا د اسرائيلو اشغالګرو جنايتونه غندلي او له نړيوالې ټولنې يې غوښتي، چې تر اختر وړاندې دې په غزه کې بېړنی اوربند اعلان شي.
د مسلمانو علماوو دا ټولنه په داسې حال کې د صهيونستي رژيم د بريدونو غندنه کوي چې دغه غاصب رژيم خپل بريدونه له پخوا څخو چنده زيات کړي او تر دې دمه يې تر ۳۳ زرو زيات کسان شهيدان او نږدې ۷۶ زره نور يې ټپيان کړي دي.
د يادونې وړ ده چې د صهيونست رژيم په بريدونو کې يوازې ملکي وګړي په نښه شوي دي.

## کشته شدن بیش از ده نیروی امنیتی ایران در درگیری با مهاجمان مسلح

بربنیاد گزارش رسانه‌های ایران، ۱۳ نیروی امنیتی این کشور در درگیری با مهاجمان مسلح، کشته شده‌اند.
این تعداد از نظامیان ایران پس از آن که گروهی از مهاجمان مسلح صبح پنج‌شنبه یکی از مراکز سپاه پاسداران ایران در ساحه چابهار این کشور، حمله کردند، کشته شده‌اند.
براساس گزارش رسانه‌ها؛ طی درگیری مسلحانه در چابهار و راسک ایران میان مهاجمان وابسته به گروه جیش العدل و نیروهای امنیتی ایران از شب گذشته تا کنون دست‌کم ۵ مامور امنیتی و ۸ مهاجم جان باخته اند.
رسانه‌های ایرانی مهاجمان را وابسته به گروه جیش‌العدل اعلام کرده‌اند که تمام آنان از پا درآمده اند در میان جان باخته‌گان نیروهای امنیتی ایران، دو نیروی مرزی و ۷ عضو سپاه پاسداران ایران نیز شامل‌اند.
گفته می‌شود که مهاجمان قصد ورود به یکی از پایگاه‌های مربوط به سپاه پاسداران ایران را داشته‌اند.
گروه جیش‌العدل از جریان‌های مسلح ضد دولت ایران است که هرازگاهی حملاتی را بر نیروهای عمدتاً مرزی این کشور، انجام می‌دهد.



**جو بایدن به نتانیاهو:**

## اگر به جان غیرنظامیان و امدادرسان‌ها در غزه توجه نشود از حمایت اسراییل منصرف خواهیم شد

جو بایدن، رییس جمهور امریکا و حامی بی‌قیدوشرط رژیم اشغالگر اسراییل در جنگ غزه بخاطر ادامه بی‌توجهی به جان غیرنظامیان و امدادگران در غزه به نتانیاهو هشدار داده است.
بر بنیاد گزارش‌ها، بایدن این هشدار را شب گذشته داده است.



رییس جمهوری امریکا افزوده که در صورت ادامه کشتار غیرنظامیان و امدادگران در نوارغزه، واشنگتن سیاست خود را در قبال حمایت از رژیم اشغالگر اسراییل تغییر خواهد داد.
تاکنون سیاست امریکا حمایت از رژیم صهیونیستي اسراییل در غزه بوده است.
این هشدار پس از آن صادر شده که به تازه‌گی هفت امدادگر آشپزخانه جهان، در حمله نیروهای رژیم اشغالگر در نوار غزه کشته شدند.
این رویداد خشم شماری از رهبران جهان را به همراه شده است.

## توجه !

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**